مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۲۵/۰۵/۲۶

د بنګله دېش د خپلواکۍ انقلاب خونړۍ پیل او بریا

لومړي برخه

سرپزه:

په 1971 کال کې په پاکستان کې د بنګال ملتپاله غورځنګ د خودمختارۍ او خپلواکۍ لپاره مبارزه پیل کړه. په پای کې په ختیځ کې بنګالیانو د لویدیځ پاکستاني پنجابي استعمارګرو واکمنانو په وړاندې ستره انقلابي بریا ترلاسه کړه. په تیره پیړۍ کې د بنګله دیرېش دولت د زړه بوګنونکي جنګي جنایاتو ورسته رامنځته شوي. د بنګله دېش دولت زېږون د یوه مظلوم ملت خونړۍ زېږون و. د بنګالیانو روحي صدمه یا ټرومه، له لویدیځ پاکستان څخه د بنګله دېش د خپلواکۍ انقلاب پیل او ورپسې خونړۍ جګړې د نړۍ زړه لرزونکي پېښې ثبتې شوې دي. د پښتنو لپاره د بنګال انقلابي ملتپال غورځنګ د خونړۍ پاڅون او د خپلواکۍ بریا یو ستر تاریخي درس دی. په ځانګړي توګه د پښتون ژغورنې غورځنګ مشرتابه ته یو خورا مهم تاریخي درس دی. د شیخ مجیب الرحمن سیاسي مبارزه او د منظور احمد خان پښتین مبارزه تر ډېره بریده د پرتلې وړ ده. څرنګه چې د مجیب الرحمن ولسي غورځنګ د پنجابي واکمنانو او پوځیانو د سترګو غټ ازغی و، همدا ډول نن دوی ته د منظور پېښتن د پښتون ژغورنې غورځنګ دی. پې تې اېم د پنجابي ظلمو او استعمارګرو په وړاندې یو دیوال جوړ دی. هغمهال د بنګالیانو په ازادي غورځنګ باندې هم بندیز لګیدلي و، نن په پې تې اېم باندې بندېز لګول شوي دی.

منظور پښتین هم لکه د بنګله ېش ملتپال ازادۍ غوښتونکي غورځنګ په څېر خپل ولس ته خپلواکي غواړي. د ترهګري ضد جګړې تر نامه لاندې خپلو لسګونو زرو بېګناه وژل شویو پښتنو د وینو حساب غواړي، خپل ځنګلونه، خپل غرونه او خپل معدنیات د پنجابي استعمارګرو او اشغالګرو له لوټلو خلاصول غواړي. پې تې اېم د پنجابي ظالم استعمار ریاست څخه د خپلو مظلومو ګونډو او یتیمانو د اوښکو حساب غواړي. د پنجابي پوځي استبلیشمنټ د ډالرې جګړې ضد دریځ لري. منظور پښتین هم د پنجابي پوځیانو ظلم او استبداد خلاف ټول لر او بر پښتانه افغانان د بنګالیانو په څېر متحد کول غواړي. ټول پښتانه دې مهمې ملي تاریخي ستونزې ته رابیدارول غواړي. تر بنګالیانو بهتره نن په پښتنو کې ملي یووالي، ملي فکر او ملي شعور غواړي. په خپله ژبه لیک او لوست غواړي. پې تې اېم په وج زور سره په خیبر کې د قامي عدالتي میلیوني جرګه راوبلله. پې تې اېم هم لکه بنګله دېش کې د دښمن رزیلانه ناکامو پالیسیو، پوځي استعماري تکتیکونو خلاف متقابل ځوابې تګلارې جوړول غواړي. تر څو د بنګالیانو په څېر یو ستر ولسي انقلاب ته لاره هواره کړي. څو پښتانه د یو واحد ملت په توګه د بنګالي ملت په څېر د پنجابي استعماري ظالم، تشدد، جبر او غلامۍ څخه وژغوري. سیمې ته سوله او امن راولي. د پې تې اېم احتجاجي لاریونونه کول، پرلتونه کېنول، لانګ مارشونه ترسره کړل، د پې تې اېم مشران نیول، تري تم کول، وژل، د هغو تلین لماځل، د بنګاله دېش د ازادۍ غورځنګ په څېر مطالبې یا غوښتنې وړاندې کول بیا د مطالبو لیسټ اوږدیدل، په سختو لهجو کې سپین بیانونه او ویناوې کول، د خلکو ولسي ملاتړ ترلاسه کول، د پنجابي استعمار پر وړاندې ولسونه بیدارول، د ولس موبیلېز کول، په پښتنو کې ملي شعور خپرول، د پې تې اېم څخه د ېلا ېلو قومونو مشرانو، مذورکارانو، عامو خلکو، د پوهنتون محصلینو او زده کونکو ملاتړ دا ټول د بنګله دېش د ازادۍ انقلاب په څېر حرکتونه او

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

فعاليتونه دي. د شيخ مجيب الرحمن د انقلابي غورځنګ د کاميابي اصلي لامل د بنګالي ولس ملاتړ او يووالي و. په دي ليکنه کي يوازې پر بنګالي ملتپال غورځنګ د مبارزې په تکتيکونو باندې تمرکز کيږي.
د بنګله دېش د خونړۍ انقلابي دورې په تاريخي درسونو باندې پوهيدل نه يوازې زمور د اوسني وضيعت د پوهيدو لپاره، بلکي نن ورځ د پي ټي اېم د انقلابي مبارزې د بريا لپاره خورا مهم درسونه دي. ښايي د بنګله دېش د خپلواکۍ غورځنګ د مبارزې منځپانګه په محتوياتو کي، د افهام او تفهيم اړيکي، د غورځنګ موخې، د مقاومت او خپلواکي مبارزې ستراتيجي د پي ټي اېم د اوسنې مبارزې منځپانګې سره لږ څه توپير ولري، خو د دواړو غورځنګونو تر منځ ځښتې ډېر مشترکات شتون لري. دښمن نن د بنګله دېش برخليک له ويري هماغه زړه ناکامه تکتيکيونه کاروي، څو پي ټي اېم وننګوي. حالاتو ته په کتو سره لر او بر پښتانه افغانان بايد په دې وپوهيږي، چې په پښتونخوا يا مقبوضه افغانستان کي د بنګله دېش تاريخ بيا تکرارېږي او ان شاءالله لوی افغانستان جوړيږي.



خو نن په دي تاريخي مشترکاتو باندې ډېر لږ خلک پوهيږي، چې په حقيقت کي هغمعال په بنګله دېش کي څه پيښ شول. هغمهال له لويديځ پاکستانه د بنګله پيش بيليدل، د بنګله دېش د خپلواکۍ انقلاب او ورپسې کورنۍ جګړې د نړۍ زړه لرزونکی پېښې څنګه رامنځته شوې.
په دي کي هيڅ شک او شوپيان نېشته، چې د خپلواک بنګله پيش د تاريخ اصلي اتلان هغه ميليونونه بې نامه، بې نښانې بنګله دېشيان دي، چې د آزادۍ لپاره مبارزه وکړه او د خپلې هر وروستۍ څاڅکی وينو قربانۍ ورکولو ته چمتو ول. وسمهال د دي خونړيو زړه بوګنوکو حالاتو سم ارزولو او څېړلو وخت رارسيدلي دی.
د برتانوي هند يا برصغير وېش په پاکستان او هند وېشل شو. دا وېش د برتانوي نړيوال امپرياليزم او کولونياليزم په تاريخ کي د پېړۍ تر ټولو بد ترينه ستر جرم و. د 1947 کال په 14 مه او 15 مه د بشريت پر وړاندې يو لوی جنايت ترسره شوي دی. د هند د وېش له امله د کورنۍ تاوتريخوالي او په جګړه کي دوه ميليونه انسانان ووژل شول. په 7500 ښځو باندې جنسي تيری ترسره شوي او له لسو څخه تر شلو ميليونه خلک بيځايه شوي. برتانويانو پرېکړه کړي وه، چې مسلمانان او هندوان د يو بل پر ضد راوپاروي. دغه پېښه په بشپړه توګه د مخنيوي وړ پېښه وه، ځکه يوازې يو کال دمخه هندوان، سيکان او مسلمانان د برتانوي هند د اشغال پر وړاندې د خپلواکۍ پاڅون په ترڅ کي په يوه سنګر کي سره څنګ په څنګ ولاړول. لويي بريتانيا نور نشواي کولي، چې خپله مستقيمه واکمني وساتي او دې ته اړ شول، چې ,, بېل يي کړه او ايل يي کړه,, په پاليسي باندې تکيه ولګوي. چې هند به د اکثريت هندوانو کور وي او د پاکستان نوی هيواد به د اکثريت مسلمانانو کور وي. د بنګال سيمه په خټيځ او لويديځ وېشلي شوي وه. لويديځ کي اکثريت هندوان ول، دوی په هند کي شامل شول، په داسي حال کي چې په خټيځ کي اکثريت مسلمانان ول، په خټيځ پاکستان اوسني بنګله ديش کي شامل شول. که څه هم د لويديځ او خټيځ پاکستان خلک اکثره ورته مذهب لري، خو دوی په بشپړ ډول بېل کولتور دود دستور لري او په بشپړ ډول مختلفې ژبې لري. د لومړۍ ورځ څخه خټيځ پاکستان د لويديځ پاکستان تر بشپړ اقتصادي، سياسي، کولتور او پوځي تسلط لاندې و.

د بنګاليانو خونړۍ هيواد د زيږون تاريخ

بنګله دېش په لفظي مانا کي د بنګاليانو هيواد ته ويل کيږي. بنګله دېش په نړۍ کي يوازېنې هغه هيواد دی، چې په عامو قتلونو او ټولوژنو کي زيږيدلی دی. دا هيواد په پيل کي د پاکستان خټيځ برخه وه، چې د ګنګا او برهماپترا سيندونو په حاصلخيزه ډيلتا کي موقعيت لري.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د هند له وېش وروسته، ختيځ او لويديځ پاکستان په يوه ېشلي دولت بدل شول. ختيځي برخي بنګال د خپلواکۍ لپاره هڅې پيل کړې. کله چې د هيواد د دواړو برخو ترمنځ شخړه زياته شوه. شيخ مجيب الرحمن په 1971 کال د مارچ په 26 مه نېټه په نيمه شپه کې د بنګله دېش په نوم د "بنګاليانو خاوره" خپلواکه اعلان کړه. ,, څرنګه چې زمونږ لا دمخه ډيره وينه تويه شوې ده، زمونږ وېنه به نوره هم تويه شي. د الله تعالی په فضل سره مونږ به د دې خاورې خلک خپلواک او آزاد کړو. د بنګال لپاره د خوښۍ ورځ او بريا راوړو,,. دا هغه څه يا خبرې دي، چې د عوامي ليګ مشر شيخ مجيب الرحمن د پاکستان په ختيځه برخه بنګال کې ويلي دي. د 1971 کال د مارچ په پيل کې د واکمن پوځي حکومت پر وړاندې د پاڅون غږ وکړ. لويديځ پنجابي پاکستان په چټکۍ سره پوځي ځواب ورکړ. مجيب د بنګله دېش د خپلواکۍ غورځنګ وياند د خپلواکۍ اعلان ورسته ونيول شو او لاس ترلې پاکستان ته يوړل شو.

په 1971 کال کې د لوېديځ پاکستان څخه د بنګاليانو د خپلواکۍ غورځنګ په جريان کې د تاوتريخوالي جدي پېښې او يوه سخته جګړه پېښه وشوه، چې بالاخره هند په کې ښکېل شو. څو ميليونونه خلک په تېښته کې کډوالي ته اړ شول.

په 1971 کال کې په پاکستان کې د خپلواکۍ لپاره مبارزه پيل شوه. په پای کې په ختيځ کې بنګاليانو د لويديځ پاکستاني واکمنانو په وړاندې بريا ترلاسه کړه. د بنګله دېش دولت د تېرې پېړۍ يو له بدترينو جنګي جناياتو او جرمونو وروسته رامنځته شوې.

رضاالاحمد يوه دوسيه د ژيړ پانو ډکو کاغذونو سره له يوه صندوق راويستله او يو څو پاڼې نوره هم راوباسلې. له زړه پانو څخه ګرد او دوړې هم پورته کيدلې، هغه يوه شېبه مکث وکړ او د يوې مودې لپاره ځينو اسنادو ته هم وکتلو. هغه د دوسيې پاڼې هڅوا او ديخوا واړولې، خو بالاخره نوموړي هغه څه ومونډل چې د هغه په لټه کې و: دا يوه مقاله وه چې له يوې ورځپاڼې څخه پرې شوې وه. د کاغذ رنګ اوس زيړ او زوړ شوې او د ليکنې رنګ هم لږ کمرنګه خړپړ او تياره مالوميده.

کله چې تاسو دا کرښې لولئ: هغه خلک چې زه يې په اړه ليکم ښايي اوس ټول مړه شوي به وي. د دې ډراماتيکو الفاظو سره برتانوي خبريال او ليکوال ښاغلی برايان فريمنټل خپله يوه تر ټولو غوره شويو او په لوی تېراژ کې پلورل شوي ليکنه وه. د 1971 کال په دوبي کې د هندې او ختيځ پاکستان د پولې ترمنځ د خپلې مقالې ليکل پيل کړي و. دا کيسه څو ورځې وروسته په برتانوي ورځپاڼه "ډيلي ميل" کې خپره شوه او په دې مقاله کې د بنګلياتو له خونړۍ ناورين او ډراماتيک وضعيت په اړه په زړه پورې راپور ځپور کړي و.

رضاالاحمد وايي: هغه هلته و، په هغو بدبختو کمپونو کې چې له ټپي شويو او وړو خلکو ډک وو. د نوموړي سترګو په وړاندې په سلګونه خلک مړه شول.

73 کلن الاحمد يو زوړ تجربه کاره د بنګله دېش د خپلواکۍ جګړې يو سرتېرى يا ويټران دى، چې د 1971 کال په دې هېره شوې جګړه کې يې د ختيځو پاکستانيانو په خټه بنګاليانو په استازيتوب د خپلواکۍ په جګړه کې برخه اخيستلې ده. نوموړي (Mukti Bahini) د بنګال د آزادۍ ښونکي پوځ غړى و. هغه په ډېر ورو او ټيټ غږ کې وويل، "مونږ جګړه وګټله، خو په کومه بيه"؟

د پنجابي استعماري تسلط په وړاندې د بنګاليانو ملي مقاومت

رضاالاحمد وويل: دلته هر څه په ډېر بده توګه او بې پوښتنې سره پيل شول. دوه لسيزې وړاندې برتانوی استعماري واکمنان د هند نيمه وچه پرېښودله او د ,,مسلمان سياستوال,, محمد علي جناح د ,,اسلامي دولت,, جوړولو غوښتنې يې ومنلې. د 1947 کال په اګست کې هند او پاکستان د نوي دولتونو خپلواکۍ ولمانځله. خو پاکستان په دوو برخو ووېشل شو: لويديځ او ختيځ پاکستان د شاخوا دوه زره کيلومترو په واټن کې سره جلا شول. په منځ کې هندوستان پروت و. ,, يوازې همدغه حالت له ناکامۍ سره مخامخ وه,, څنګه يو دولت ژوندى پاتې کيدلې شي، کله چې د هغې دوه برخې دومره لرې وي.؟ رضاالاحمد وويل: لنډه دا چې ,, لويديځ پاکستان پر مونږ په استعماري توګه واکمن شوې و. په لويديځه برخه کې پلازمېنه هم وه. مونږ يوازې هڅې خوشې مزاحم بنګاليان وو.,, د بنګالېي ژبې د رسمي ژبې په توګه د ردولو پرېکړه لويديځ پاکستان تسلط پر وړاندې ملي مقاومت راوپاروه. په ختيځ پاکستان کې د خپلواکۍ غورځنګ زور او قوت واخيست او د زده کونکو پخوانی مشر مجيب الرحمن يې مخکښ غږ وګرځيد.

د 1960 لسيزې په نيمايي کې مجيب څو ځلي ونيول شو، خو په ختيځ کې لاريونه او احتجاجونه کم نه شول.

پاکستان په 1965 کال کې د کشمير پر سر د هند پر وړاندې د جګړې ورسته ډېر کمزورى او تضعيف شو. ځلور کاله ورسته جنرال ايوب خان په ډېره ناهيدي او مايوسۍ کې تسليم شو.

د پاکستان اسلامي دولت په راس کې يو زناکاره او شرابي او احمق سړى يحيى خان راغلې. جنرال يحيى خان نن هم د بنګاليانو لخوا د يوه شر جوړونکي يا د شرارت سمبول په توګه ګڼل کيږي. خلک دلته په جرأت سره د هغې د زنکه بازيو او دائمالخمري په اړه کيسې کوي. داسې اوازې او شايعات هم شته دي، چې يحيى خان يو ځلي په دې ونه توانيدو، چې په پاکستان کې د ايران پاچا رسمي سفر پر مهال له هغه سره مخه ښه وکړي. يوه خدمتګار د يحيى خان مېرمني څخه وغوښتل، چې هغه د خوب خوني څخه راوباسئ، چيرته چې يحيى خان د يوې فلمي ادار کارې سره په کوټه کې پروت و. جنرال يحيى خان هم د سياسي وضيعت په کنټرولو او ارامولو کې پاتې راغی. هغه د

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

عمومي ټاکنو ژمنه وکړ. مجیب الرحمن او یحیی خان ټاکنو ته نوماندان شول او په ټاکنو کې یو بل ته د مخالفینو په توګه ودریدل. په ټول هیواد کې په ټاکنو کې د مجیب عوامي لیک ګوند په خټیځ پاکستان کې غوځ اکثریت ترلاسه کړ. په خټیځ پاکستان له 162 کورسیو څخه 160 ترلاسه کړي. خو په لویدیځ پاکستان کې هیڅ رائیي ترلاسه نه کړي. دویم لوی ځواک چې ډېر ورسته پاتې و. هغه د لویدیځ پاکستان د خلکو ګوند (PPP) و، چې مشري یې د بهرنیو چارو وزیر ذوالفقار علي بوټو کوله، چې بیا ورسته ولسمشر او لومړي وزیر شو. د همدې بریا له امله مجیب الرحمن کولې شول، چې د ټول پاکستان لپاره یو حکومت جوړ کړي. خو یحیی خان او بوټو نه غوښتل چې دغه کار وشي او نه یې اجازه ورکوله. دوی مجیب ته په واک کې شریکولو وړاندیز وکړ، خو هغه رد کړ.
په پایله کې جنرال یحیی خان د 1971 کال د مارچ په لومړیو کې د پارلمان پرانیستونکي غونډه یا جلسه لغوه او رد کړه. هممهاله د خپل بهرنیو چارو وزیر سره د خبرو اترو لپاره د خټیځ پاکستان تر ټولو لوی ښار ډاکې ته لاړ. په دې ښه پوهیدو، چې د رائیو ورکونکو د څرګندو مثبتې رائیو له امله د بحث لپاره هیڅ شي نه دي پاتې او نېشته. په ورته وخت کې هغه پوځ ته امر وکړ، چې که مجیب الرحمان تسلیم نه شي، نو د جګړې لپاره چمتوالي ونیسئ. مجیب په ټاکنو کې پر خپله بریا ټینګار وکړ او پر بنګالیانو یې غږ وکړ، د خپلواک بنګال لپاره مبارزه وکړئ او راپورته شئ.
د پاکستان لوېدیځ یو څو توکمیز ایالت و، چې څو ژبې یې درلودې. بنګالیان د ایالت په خټیځه برخه کې اوسېدل او یوه ژبه بنګالي یې ویله او یو ملت و. خو دا بنګالي ژبه د یوې رسمي ژبې په توګه هم ونه پېژندل شوه. سره له دې چې په خټیځ پاکستان کې د لویدیځ پاکستان په پرتله ډېر خلک اوسېدل. اردو د رسمي ژبې په توګه د بنګالي ژبې پر ضد پریکړې د لویدیځ پاکستان د تسلط او جبر پر وړاندې د بنګالیانو مقاومت او پاڅون راوپاراولو. د ژبې پرېکړه د بنګالیانو لخوا د دوی په کولتور او ژبنې هویت باندې د برید په توګه وګڼل شوه.
په خټیځ پاکستان کې د خپلواکۍ غورځنګ زور واخیست او د زده کونکو پخوانی مشر مجیب الرحمن یې مخکښ غږ شو. د 1960 لسیزې په نیمایي کې هغه څو ځله ونیول شو، خو په خټیځ کې لاریونونه بیا هم کم نه شول.
پاکستان په 1965 کال کې د کشمیر پر سر د هند پر وړاندې د جګړې وروسته کمزورې او تضعیف شو، ځلور کاله وروسته جنرال ایوب خان په نا امیدۍ کې ورته تسلیم شو.
الاحمد وایي لنډه دا چې: "دا هر څه هغه ډول وشول لکه څنګه چې باید شوي وي" "مجیب ارحمان ونیول شو، او د 1971 کال د مارچ په 25 مه د پاکستان پوځ یوه داسې جګړه پیل کړه، چې مور ژوندي پاتې شوي کسان به یې هیڅکله هېر نه کړو."
یو حکومتي کمیسیون وروسته دې نتیجې ته ورسید: "دا داسې وه لکه یو ظالم خونخوره ځنور ناڅاپه راخوشې شوی وي، چې مخکې په زنځیرونو کې تړل شوی و او په بشپړه توګه ډېر سخت د وینو وړی و."
د بنګله دېش د خپلواکۍ جګړه پیل شوې وه. په زرګونو خلک په ډزو ووژل شول او ډله ییزې ټولوژنې وشوې او د پاکستان پوځ له 20000 څخه ډېرې ښځې د جګړې د بندیانو په توګه ونیولې او هغوی یې دې ته اړې کړې، چې په فاحشه خانو کې د سرتیرو خدمت وکړي. پر بنګالي ښځو یې جنسي تېرې وکړل. دغه مهال یو مشهور د بنګال د آزادۍ یو جنګیالی و، چې پاکستاني پوځ پرې لویه جایزه ایښودلې وه.
الاحمد وایي: "کله چې د هغه پر کور برید او چاپه ووهل شوه، یوازې د هغه ځلور میاشتینۍ لور په کور کې ومونډل شوه." "یوه پاکستاني سرتېرې ماشومه په ځمکه وغورځوله او په لغتو لغتو یې ووژله."
د داسو ظلمونو په پام کې نیولو سره، د کډوالو یو ګړندی مخ په زیاتیدونکی بهیر د هند په لور رامینځته شو. شاوخوا لس میلیونه بنګالیان هند ته وتښتېدل. لومړۍ وزیرې اندرا ګاندي سمدلاسه دا روښانه کړه، چې هند چمتو نه دی، دومره کډوال په دایمي ډول ومني. نوي ډېلي چې د مخه د شوروي اتحاد لخوا د پوځي مداخلې تر فشار لاندې و، د کډوالي د مداخلې لپاره یو دلیل درلود. نیویارک ټایمز د واشنګټن واکمنانو "په پاکستان کې د روانو پېښو په وړاندې چوپتیا" "په زیاتیدونکي توګه د نه پوهیدو او اندېښنې وړ" وبلله.
ځکه پاکستان د امریکې او چین د دواړو ملګری و، او یحیی خان د دواړو قدرتونو ترمنځ د منځګړي په توګه د عمل کولو وړاندیزونه کول. د پاکستان حکومت د رسمي شمېرو له مخې، په دې جګړه کې 26000 کسان ووژل شول، چې دا په څرګنده توګه مبالغه شوې شمېره ده. د وروستیو اټکلونه له مخې د درې میلیونو بنګالیانو د مړینو خبر ورکړل شوي دی.

د خطرناکو ګاونډیانو په منځ کې بنګله دیش څنګه رامنځته شو.

په نړۍ کې د یوه لوی دولت د زیږیدو سره دومره ډېر ظلمونه په ندرت سره ثبت شوي دي، لکه په 1971 کال کې په بنګله دېش کې ترسره شوي دي. د 72 میلیونو اوسیدونکو لپاره شرایط ډېر ستونزمن وو. له لومړي ورځې څخه خټیځ پاکستان د لویدیځ پاکستان تر بشپړ اقتصادي، سیاسي، کولتوري او استعماري سلطې او تسلط لاندې و. د خټیځ پاکستان اقتصادي وضعیت ته د نه پاملرنې او غفلت سربیره په لوړو دولتي ادارو او پوځي مقامونو او خدماتو کې د لویدیځ پاکستانیانو واکمنې د خټیځ بنګالیانو ترمنځ د زیاتیدونکي ناراضیتي لامل و، د بیلګې په توګه په مرکزي حکومت کې 84 سلنه ملکي مامورین او په ډیپلوماتیکو خدماتو کې 85 سلنه ملکي مامورین د لویدیځ پاکستان پنجابیان وو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په 1970 کال کې د خټيځ پاکستان په صنعت کې شاخوا 66 سلنه او 88 سلنه د بانکداري په برخه کې دووېشت لويديځ پاکستاني پانګوالو کورنيو په خپلواک ډول په کې ونډه درلوده. کراچۍ د هيواد په لويديځ کې د پلازميني په توګه ټاکلي شوي وه، که څه هم د نفوس ډيرى برخه په خټيځ کې ژوند کاولو.
سربېره پردې، په لوېديځ پاکستان کې د کارګرانو مياشتنۍ اوسط معاش 35 پونډه و، په داسې حال کې چې په خټيځ کې د کارګرانو اوسط معاش 15 پونډه و. په داسې حال کې چې لويديځ پاکستان خپل توکي په لويديځ يا اروپا کې پلورل، شتمني په بل لوري له خټيځ پاکستانه څخه لويديځ ته روانې شوې وې. د پاکستان پوځ 90 سلنه د لويديځ پاکستان څخه جوړ شوې و او همدارنګه يوازې 16 سلنه لوړ پوړي ملکي مامورين د خټيځ پاکستانيانو وو.
د اقتصادي نابرابريو او د سياسي حقونو ځپلو له امله د خټيځ پاکستان د اپوزيسيون ځينو برخو ان په 1960 لسيزې په لومړيو کې د لويديځ پاکستان څخه د جلا کيدو او خپلواکۍ په اړه فکر کړي و. دغو هڅو د 1965 کال د سپتمبر په مياشت کې د هند او پاکستان د دويمې جګړې په پايله نور هم زور واخيست. خټيځ پاکستان له نورې نړۍ څخه بلکول جلا او هير شوي و. که څه هند پر خټيځ بنکال بريد ونه کړ، خو جګړې د خلکو په منځ کې د ناامنۍ ژور احساس پرېښودلي و.
په بنګله ېيش کې اردو ژبه ملي ژبه اعلان شوه. که څه هم يوازې اووه سلنه د ټول بنګله دېش خلک پرې خبرې کولې شول. په داسې حال کې چې 55 سلنه خلک په يو ډول په يوه بنګالي ژبه خبرې کولې. د لويديځ پاکستان واکمنې طبقې د بنګاليانو ديموکراتيک بشري حقونه د خپلو امتيازاتو د ساتنې او د خپلو ګټو د اعظمي کولو لپاره وځپل او تر پښو لاندې کول.
خټيځ پاکستان د واکمنې پنجابي طبقې چې په عمده توګه په لويديځ پاکستان کې اوسېدل,, د ګټې اخيستنې اصلي سر چينه وه او په هغه وخت کې د خټيځ پاکستان نفوس د ټول پاکستان په پرتله نفوس اکثريت جوړولو. بنګه دېشانو ته د عمومي رائيو ورکولو حق د سياسي وضعيت کنټرول له لاسه ورکولو په مانا و. کوم چې بالاخره همداسې پېښ هم شول او خټيځ پاکستان ته د خپلو مالياتو راټولو، د خپلو اسعارو يا کرانسي د تنظيم حق ورکول به د لويديځ پاکستان د واکمنې طبقې لپاره د اقتصادي کنټرول له لاسه ورکولو مانا درلودله.

د بنګال ژبڼۍ غورځنګ پيدايښت

په 1952 کال کې په بنګله دېش کې د نارضيتۍ لومړۍ نښې نښانې د بنګالي ژبې د پېژندلو او عملي کولو لپاره د يو ډله ېيز غورځنګ په جريان کې هم راڅرګندې شوې. دې غورځنګ وروسته له هغه پراخ ملاتړ ترلاسه کړ، کله چې پوليسو د دې غورځنګ لسګونه زده کونکي فعالان په ډزو ووژل. د بنګله دېش ژبڼۍ غورځنګ په بهير کې د مجيب الرحمن په نوم يو ځوان بنګالى راڅرګند شو. هغه بالاخره د بنګالي ملتپال عوامي ليګ مشر شو، چې وروسته يې د خپلواکۍ په مبارزه کې مهم رول ولوبولو. که څه هم د خټيځ بنګاليانو يوازې صفر اعشاره شپږ سلنه په اوردو زېه خبرې کولې شولې، خو لوديديځ پاکستان غوښتل، چې دا ژبه بايد د پاکستان يوازېنې رسمي ژبه شي. د پاکستان پوځي رژيم په پيل کې هڅه وکړه، چې د ژبڼۍ غورځنګ په زور سره وځپي او له منځ يوسي. خو بالاخره په 1952 کال کې په فبروري کې د بنګاليانو فشارونو ته تسليم شو. چې بيا بنګالي ژبه د اردو او انګليسي ژبې تر څنګ د پاکستان رسمي ژبه شوه. د بنګاليانو ملي احساسات او ملي شعور چې د پنجابي مرکزي حکومت د ژبې پاليسيو له امله زيانمن شوي و. په خټيځ پاکستان کې د سياسي اپوزيسيون لپاره دا شونې شوه، چې يو ګډ ټاکنيزه اتحاد رامنځته کړي.
مجيب الرحمان د ځمکې کروندګرو د منځنۍ طبقې کورنۍ څخه يو عام راغلى ځوان و او د لويديځ ډيموکراسۍ څخه الهام اخيستلى و. هغه ډېر کاريسماتيک، پوه تعليم يافته سړى و. د راڅرګندېدونکي انقلابي بنګالي منځنۍ طبقې مشري لپاره يو ښه مناسب شخصيت و.
د لويديځ پاکستان واکمنو په خټيځ پاکستان کې د پنجابي استعمار او برلاسۍ پر وړاندې د مخ په زياتيدونکي کرکې څخه په ويره کې ول. د لويديځ پاکستان حاکمې طبقې يوازې 56 ورځې وروسته حکومت منحل اعلان کړ او په 1956 کې د بنګالي ژبې رسمي پېژندنې ته اړ شول. د 1950 لسيزې په کړکېچنو وختونو کې او د ژبڼۍ غورځنګ په بهير کې په د بنګله ېيش کې د خلکو ترمنځ يو عصري ملي شعور او فکر رامينځته شو.

د پنجابي ظلم، ډيکتاتوري او استبداد رژيم پر وړاندې ملي پاڅون

په 1958 کال کې د پاکستان "ډيموکراسي" پای ته ورسېده. سياسي، ټولنيز او اقتصادي ګډوډي د سياسي ګوندونو د بنديز او د مخالفو طبقو ترمنځ د بندون يا بنبست لامل شوه.
په 1958 کال کې پوځي افسر ايوب خان د يوې پوځي کودتا له لارې واک ته ورسېد او د يوه ځواکمن سړي په توګه يې حکومت وکړ. په ټولنه کې د ېبلا ېبلو طبقو يا ټولګيو ترمنځ يې توازن ساتلو "تر څو هيواد له ګډوډيو وژغوري."
پاکستان کې پوځي رژيم اعلان شو او ټول سياسي ګوندونه او سياسي غونډې منع اعلان شوې. سياسي ترينګلتيا ورځ تر بلې زياتيده.
بنګالي کولتور وځپل شو. ايوب خان د امريکايي پوځي اډو د جوړولو لپاره امريکايي پوځ پاکستان ته راوست او پاکستان يې په سېمه کې د امريکايي امپرياليزم په مرکز بدل کړ.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په 1965 کال کې پاکستان د کشمیر پر سر له هند سره یوه ګرانبیه او ویجاړونکې جګړه وکړه، چې انفلاسیون یې نور هم زیات کړ او د خلکو د ورځنې ژوندانه لګښتونه نوره هم لوړ کړل. له دې فرصته بنګالي غورځنګ په ښه ګټه پورته کړه، په ولس کې پراخ ملاتړ ترلاسه کړ.
د مطبوعاتو سانسور او په سیاسي بیانونو او ویناوې باندې محدودیتونو ولګول شول، په ختیځ پاکستان کې د بنګالیانو په وړاندې ملي ظلم او ستم له حده زیات ورواوښت.
دې ناوړو پالیسیو او کړنو د طبقاتي مبارزې د یوې پیاوړې چاودنې لپاره بنسټ جوړ کړ. یوازې هغه څه ته اړتیا وه، چې د پنجابي رژیم پر وړاندې د ژوري کرکې، غوسې او د ملي پاڅون د اور بلولو لپاره یوه سپرغي ورته کافي وه.
د لویدیځ پاکستان پنجابي پانګوالو د پراخو ځمکو د مالکیت او د ارزانه کارګرانو په توګه د نورو قومي لږکیو لکه پښتانه او بلوڅانو د استحصال او استعمار له لارې اضافي ګټې ترلاسه کولې.
له همدې املې د پاکستان بورژوازي، چې د پنجابي ځمکو مالکینو او امریکایي امپریالیستانو سره لاسونه او پښې ټرلي شوي وې. دوی د یوه عصري ډیموکراتیک دولت د جوړولو توان نه درلود، چې د خلکو اساسي اړتیاوې ورپوره کړي. د بېوزلو بزګرانو لپاره ځمکې او د مظلومو قومونو ازادي او بیلو بیلو ډلو لپاره د بشري حقونو آزادي وو.
په 1966 کال کې مجیب الرحمن خپلې شپږ مطالبې یا"شپږ نکاتي پروګرام" اعلان او خلکو ته معرفي کړ، چې په کې د ختیځ پاکستان لپاره د زیاتې خپلواکۍ او د پاکستان په فدراسیون کې د پارلماني ډیموکراسۍ د بیا رغونې غوښتنې کولې. نوموړي د خپلواک پوځ د جوړولو او د خپلو مالیاتو او عوایدو راټولولو او د کنټرول حق غوښتنه وکړه، پشمول د دوو جلا کرانسیو یا د بنګله بېش لپاره بېل پولي واحد یا خپله بنګله دېشي کرانسي او اسعارو معرفي کول و.
دا داسې یو پروګرام و، چې که څه هم غوښتنې ځومره معتدلې او نرمې هم وې، بیا هم هغومره د پاکستان د واکمنې طبقې لپاره په سترګو کې یو غټ ازغی و. دا غورځنګ په عمده توګه د عوامي لیک مشر مجیب الرحمن او د ماویستي ګوند مشر عبدالحمید خان بهاشاني لخوا رهبري کیده، چې د چین کمونیستي ګوند سره نږدې اړیکې درلودې. بهاشاني هم د یوې متوسطې بزګرۍ طبقې څخه یو تعلیم یافته سړی و. د ماوسیتونګ د چین کمونیستي انقلاب څخه الهام اخیستي و. نوموړي په دې باور و، چې د خپلواکۍ ګټلو مبارزه د بزګرانو په مشرۍ د وسله والې چریکي جګړې له لارې ګټل کیدلې شي. د 1968 کال د ډیسمبر شپږمه بهاشاني د عمومي اعتصاب غوښتنه وکړه، حکومت د ځپلو سربیره په ټولو غوندو او مظاهرو بندېز لګولو سره ځواب ورکړ. دا مهال د غورځنګ بله ځانګه د عوامي لیک د زده کونکو ځانګه د مجیب په مشرۍ رهبري کیدله، د ډیسمبر په دوولسمه د یو بل عمومي اعتصاب غوښتنه وکړه. دا پاڅوني شوریش د ارتګالا محکمې لخوا د دسیسې جوړلو په تور محکوم شو. د محکمې د حکوم پر بنسټ مجیب او 24 نور ملګري یې په ختیځ پاکستان کې د تاوتریخوالي او انقلاب راویستلو او له هند سره دسیسې په جوړولو او بیلتونپالنې په تور تورن شول. د زده کونکو په 1969 کال کې د جنوري په څلورمه د زده کونکو د عمل کمیټه کې د کین اړخو او ملتپالو زده کونکو ډلو د اتحاد په توګه یوه کمیټې تاسیس کړه. دې کمیټې د بنګله بېش د خپلواکۍ انقلاب د توري ځپونکې تېره ورجوړه کړه.
د دې کمیټې د غوښتنو او پروګرام په شاوخوا کې په بنګله دېش کې یو پراخ ملي غورځنګ رامنځته شو، چې د ختیځ پاکستان د اکثریت خلکو ملاتړ یې له ځانه سره درلود.
د بنګالي زده کونکو او محصلینو لخوا د مجیب شپږ نکاتي پروګرام یا غوښتنې بیا له سره وړاندې شوې، چې دغه شپږ مطالبې په ډیر سختو راډیکالو یوولس ماده یې غوښتنې باندې بدلې شوې. مانا چې پنېځه نورې غوښتنې ورزیاتې شولې. په دې یوولس ماده یې غوښتنو کې د ختیځ پاکستان د بشپړې خپلواکۍ، د سیاسي بندیانو د خوشې کولو، د پارلماني ډیموکراسۍ د بیا رغونې، د بزګرانو لپاره د ټیټو مالیاتو او د بانکونو ملي کولو غوښتنې شاملې شوې وې، د بیمې شرکتونه او لویې صنعتي کارخانې پشمول د وړیو او مېزو صنعت یې هم په کې یاد کړي وو.
غورځنګ د خپلې تجربې له لارې په زیاتیدونکې توګه بنسټیزې پایلې ترلاسه کړې. دوی یې د ډیموکراتیکو او ټولنیزو غوښتنو سره وصل کړل او په دې توګه یې د پانګوالۍ ضد یو کرکټر ځانته غوره کړ.
د جنوري په شلمه نېټه د پولیسو لخوا د سوله ییز لاریون په ترڅ کې د زده کونکي مشر امان الله محمد اسدالزمان له وژل کېدو وروسته په بنګله بېش کې ډله ییزې مظاهرې او لاریونه زیات شول.
د هغه مړینه نن هم د بنګالي غورځنګ له خوا د یوې اتلوالۍ قربانۍ په توګه یادیږي او لمانځل کیږي.
زده کوونکو په راتلونکې بڼه ورځ د بل عمومي اعتصاب غوښتنه وکړه، چې په پراخه کچه یې ملاتړ وشو. د هر وژل شوي لاریونوال په مقابل کې زرګونه کسان له غورځنګ سره یو ځای شول، چې ورځ تر بلې سختدریځه کیدو.
د ډیموکراتیک حکومت د واکمنې لپاره د منځنۍ طبقې مبارزه او پاڅون په ولسي انقلابي پاڅون بدله شوه. د ښار کارګرانو، ریکشا چلونکو، موټر چلونکوو او نورو ورځنې مذورکارانو له د زده کونکو د عمل کمیټې سره یو ځای شول او د زده کونکو سره لاس په لاس د حکومتي چارواکو په مخالفت کې ودریدل. د خلکو ولسي پاڅون د پنجابي ظالم رژیم حاکمیت او ثبات زور بلکول ورمات کړ، ټولې حکومتي اداري سقوط شوې.
د 1969 کال د فبروري په 17مه یو بل بدلون راغی. د ختیځ پاکستان د راجشاهي پوهنتون یو پروفیسور محمد شمس زوجه د یوې مظاهرې په جریان کې د یو سرتیري لخوا د برچې په څوکه په چاړو ووژل شو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کله چې دا غمجن خبر پلازمېنې ډاکې ته ورسېد، د خلکو غوسه او قهر یو ټکان ورکوونکی پېراو ته ورسېدله. سمدلاسه چاروا‌کو ګرځېندیز ولګاوه، چې د قهرجنو خلکو لخوا له پامه وغورځول شو. محصلینو، زده کوونکو او کارګرانو د دولتي ادارو پر ضد په سړکونو کې جګړې ته راووتل او سخته جګړه یې وکړې او له سلو څخه زیات کسان په کې ووژل شول. کله چې وسله او جنګي مهمات نور د خلکو د مخنیوي وسیله نه شي ګرځیدلي او کله چې عام خلک خپله ویره له لاسه ورکړي، دا د هر مستبد رژیم لپاره یو مرګونی ګوزار وي.
د جنرال ایوب خان ورستۍ ورځې شمېرلې شوې وې. د فبروري په 21 مه، هغه اعلان وکړ چې هغه به د 1970 کال په ټاکنو کې برخه وانخلي، کوم چې د دې هیواد په تاریخ کې د عمومي رائې ورکولو لومړنۍ ټاکنې وي. د محصلینو عمل کمیټې د دولتي چاروا‌کو سره وکتل او د کرفیو یا ګرځېندیز د پای ته رسولو او د سیاسي بندیانو د خوشې کولو غوښتنه یې وکړه. مجیب یوه ورځ وروسته د فبروري په 22 مه، د زرګونو ولاړو خلکو د خوښیو په منځ کې او د دوی بدرګې په وړاندې له زندانه راخوشې شو.
څومره یوه ستره بریا وه! د مجیب خوشې کېدل د خلکو د قناعت حاصلو پر ځای برعکس اغېز درلود: لاریونوال یې لا نوره زړور کړل او د هغوی مورال یې په پراخه کچه نوره لوړ کړ. دا د بنګال د خپلواکۍ انقلاب د عطف یو مهم ټکی و او یو مهم انقلابي پېراو ته ورسېدل. د کارګرانو ډلې ډلې د غورځنګ سره مل شولې او ولسي راغونډ شول او په کلیوالي سېمو کې بزګران هم ورسره مل او یو ځای شول.
د امریکې ټایمز ورځپاڼې د مارچ په میاشت کې سیاسي وضعیت داسې بیان کړي دی: "اعتصاب کوونکي او لاریونوالو چې له ټولو مسلکونو او صنعتونو څخه وو، له ډاکټرانو څخه نیولې تر د ریل ګاډي کارګرانو او دولتي انجینرانو پورې، د ورځې په نږدې ټولو ساعتونو کې په سړکونو کې ټولو لاریونونه کول، د غوره کارې شرایطو او د لوړو معاشونو غوښتنې کولې... له دوو اوونیو راهیسې، د ډهاکې ښار په سړکونو کې د پولیسو یو یونیفورم لرونکي پوځي یا پولیس هم نه تر سترګو کیده یا لیدل شوی."

د بنګاله دېش د ازادۍ انقلاب په نه تمیدونکي یا نه ودرېدونکي سرعت سره د پرمختګ په حال کې و. هره ورځ ډېر کارګران په اعتصابونو کې شامل کیدل. بهاشاني په زیاتیدونکي توګه افراطي ویناوې وکړې او کارګران یې وهڅول چې سړکونو ته راووځي.
هغه به خلک وهڅول او د ګیراو (Gheroo) د محاصرې تاکتیکونه کارول، پرلټونه کېنول دا په دې مانا وه، چې مشران تر هغه وخته پورې یرغمل وساتي، تر څو چې دوی غوښتنو ته غاړه کېږدي. د مارچ په 17 مه، په ټول هیواد کې عمومي اعتصاب ترسره شو، دا اعتصاب بریالی و، حتی د ولسمشرۍ مانۍ څخه یې برېښنا لینونه پرې کړل.
که څه هم پاکستان دا مهال په رسمي ډول د برتانوي استعماري بادارانو څخه آزاد شوی، خو ختیځ پاکستان د لویدیځ پاکستان نیمه مستعمره او د مظلومو بنګالیانو کور و.
اعتصاب د مارچ تر 25 مې پورې دوام وکړ، کله چې ایوب خان استعفا ورکړه. په لویدیځ او ختیځ پاکستان په دواړو کې بزګرانو د ځمکو نیول پیل کړل او د کرکې وړ ځمکوالو ته د حساب ورکولو لپاره محکمې جوړې کړې وې. د دوی شعار دا وو: "څوک چې ځمکه کري، هغه باید حاصلات هم ترلاسه کړي،" او: "د ځمکې خاوندان باید استعفاوې ورکړي." په ختیځ پاکستان کې د ګیراو 24 قضیې وې چې کارګرانو د لویو فابریکو او دولتي ودانیو کنټرول په لاس کې واخیست. په ډیرو کارې ځایونو کې کارګرانو د خپل ځان لپاره د مدیریت کمیټې جوړې کړې وې.
ټولې دولتي اداري فلج شوې وې. وضعیت نور د حکومت تر کنټرول لاندې نه وه. ټول دولتي اداري د جبر، زور، ویرې او تهدیدونو قرباني شوې وې. په هیواد کې هره ستونزه په سړکونو کې حل کیدله. قانون او حق د هغې چا په لاس کې وه، چې په ټولنه کې دویم ځواک و یا چا چې د دولت په پرتله ډېر واک درلود.
دا د بنګال کارګرې طبقې ځواک و، چې په کارې ځایونو کې د خپلو کمیټو له لارې تنظیم کړي وې. په ټول پاکستان کې ورته استراري حالت رامنځته شوې و.
ایوب خان د مارچ په 25 مه د انقلابیانو د خپل انقلابي ځواک په ښودلو سره استعفا ته اړ کړل شو.
په لوېدیځ پاکستان کې د پاکستان د خلکو ګوند (PPP) کېن ارخي ذوالفقار علي بوټو د غورځنګ مشري په غاړه واخیسته.
که بهاشاني او بوټو د واک د ترلاسه کولو لپاره اتحاد کړی وای، نو د واک سوله ییز لیږد به شوني شوی وای او د کارګرانو حکومت به د کارګرانو د کمیټو پر بنسټ جوړ شوی وای چې په ټول پاکستان کې به خپور شوی وای. خو داسې ونه شول.
په دې سناریو کې، د بنګله ېش خلکو به یو آزاد او ډیموکراتیک انتخاب درلودلی، چې د کارګرانو په مشرۍ د لویدیځ پاکستان سره د رضاکارانه اتحاد کې ورسره یو ځای شوې وای او یا په بشپړ ډول ترینه جلا شوې وای. د کارګرې دولت پر بنسټ د رضاکارانه اتحادیې جوړول به دې غورځنګ ته اجازه ورکړې وای چې لویدیځ بنګال او د هند پاتې برخې ته خپور شي او په نهایت کې به د بر صغیر د سوسیالیستي فدراسیون رامینځته شوې وای، چې په کې د مظلومو لږکیو د ځان یا د خود ارادیت حق په بشپړ ډول پېژندل شوی وای.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خو بوټو په کلکه د بنګالي ملتپالنې مخالفت وکړ او هوډ يې درلود چې په هره بيه چې وي د پاکستان جبري يووالي وساتي. ځکه چې ايوب خان د ماوسيتونګ او چين ملګری و. په هند کې د شوروي نفوذ په وړاندې د مقابلې لپاره د چين کمونيستي جمهوريت د متحده ايالاتو امپرياليزم سره د يو غير معمولي او غير اصولي اتحاد ته ورننوت او په دې توګه د لويديځ پاکستان واکمنې طبقې سره اړيکې جوړې کړې. د دې دواړو هيوادونو د ستراتيجی يوه مهمه برخه دا وه، چې دوی د خپلو متحدو کمونيستي ګوندونو څخه د خپلو بهرنيو سياسي پاليسيو د پراختيا پر بنسټ د وسيلې په توګه کارول. د بهاشاني لاسپوڅی ګوند او د بنګله پش خلک د دې دواړو ځواکونو د شطرنج د لوبو دانې وې. همدارنګه ايوب خان د ماوسيټونګ او چين لاسپوڅی و.
ځينو کينې اړخو ګوندونو حتی د ايوب رژيم ته د هغه وخت صنعتي کيدو له امله د يو مترقي رژيم په توګه انځورولو. ټول هيواد په ټپه ولاړ و او واکمنې طبقې هڅه وکړه، چې د اساسي قانون په ځنډولو او د مارشل لا په لګولو سره به امن نظم بيرته راولي. خو ايوب په خپله دا نه شوای پلي کولی - هغه په بشپړه توګه بې اعتباره او بدنامه شوی و. له همدې امله سياسي واک پوځي قوماندان يحيی خان ته وسپارل شو.
هر کله چې ايوب خلک په ځټکو وهلو، يحيی به چاپلوسي ورته کولې او د خلک خوشاله کولو هڅې به کولې.
لکه هغه د عمومي رائيو ورکولو او د سوداګريزو اتحاديو د ځينو کوچنيو اصلاحاتو پر بنسټ د نويو عمومي ټاکنو اعلان وکړ. د دوی هيله دا وه چې غورځنګ خوندي لارو ته هدايت کړي يا بوځي.
د انقلاب ترسره کولو د ځرنګوالي په اړه د پوې روښانه تګلاري نشتون بهاشاني هم په خلکو کې د خپلې مشري واک او حيثيت ورو ورو له لاسه ورکولو پيل شروع شو. هغمهال د خلکو ترمنځ ,, د رائيو ورکول يا ګولي ورولول,, تر شعار لاندې تاوده بحثونه روان وو. په دې مانا ټاکنې يا انقلاب ؟ خو د انقلاب په اړه د بهاشاني مفکوره په بشپړه توګه د بزګرانو د چريکي جګړې په اړه د ماويستي نظريې پورې محدوده وه. د خپلواکۍ لپاره د يوې روښانه تګلاري يا ستراتيجی په نه جوړولو کې د هغه ناتواني او نه قابليت د ملي عوامي ګوند غړو بهاشاني دې ته اړ کړ، چې اعلان وکړي يا دوی به ټاکنې بايکاټ کړي. د يوه عملي انقلابي بديل پرته د ټاکنو تحريم کول يو بې ګټې تاکتيک و، په دې توګه د سياسي واک ډکر د مجيب عوامي ليک لپاره په براخه توګه پرانيستلي شو.
د بنګاليانو ملي ظالم د طبقاتي کړښو په اوږدو کې انقلابي غورځنګ ته وده ورکړل شوه، دا کار يوازې هغمهال حل کيداى شي، چې کارګره طبقه د ټول ملت په استازيتوب واک ترلاسه کړي. خو ځرنګه چې د کارګري طبقې مشرتابه له دې څخه انکار وکړ، نو بنګالي کارګري طبقه د بنګال منځنۍ طبقې ملتپالو په غېږ کې ور ولويده.

د لومړي برخې پای

د ليکوال: آرشيف

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ